PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

۹۴۳

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۴۳ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۱۰ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لیندۍ ۳۰ مه - د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق محرم الحرام ۱۵ مه ۲۰۱۰ د ډسمبر ۲۱ مه

اعدام دسته جمعي زندانیان جندالله توسط ایران

ایران دیروز ۱۱ عضو گروه جندالله را در زندان زاهدان اعدام کرد. مقام های قضایی ایران گفتند، این گروه مسوولیت حملهٔ انتحاری هفتهٔ گذشته بر یک مسجد را به عهده گرفته بود. ابراهیم حمیدی، رییس محکمهٔ ولایت سیستان و بلوچستان گفت: «صبح دیروز ۱۱ عضو متعلق به گروه (جندالله) که در ماه های اخیر در حملات تروریستی در ولایت (سیستان و بلوچستان) اشتراک داشته اند، با پولیس جنگیده و چندین فرد ملکی را شهید ساخته اند، در زندان زاهدان اعدام گردیدند". زاهدان مرکز ولایت سیستان و بلوچستان ایران می باشد. ص۳

نبه شوله ډېره چې انکار دې وکړ



امریکا چې کله پر افغانستان پوځي برید کاوه، نو دهېڅا پروا يې هم نه لرله او نه يې هم دڅا خبرو ته غوږ نیوه، حتا د ملګرو ملتونو خبرو ته يې هم چندان غوږ نه اېښوده او هغوی يې هم دې ته اړ کړي وو، چې پر افغانستان باندې له يوې خوا دوی ته د برید جواز ورکړي او له بلې خوا په دې برید کې يې ملاهم وتړي. له دې ټولو سره سره بلاخره امریکا پر افغانستان پوځي برید وکړ او د شمال ټلوالې په ملاتړ يې د طالبانو واکمني ورو ورو له منځه یوړله او په دې هېواد کې يې خپل پوځیان ځای پر ځای کړل. دا چې دوی د کوم هدف لپاره خپل پوځونه دېره کړل او د کوم هدف لپاره يې په دې هېواد کې د جګړې اور بل او تود کړ؟ دا ببله مسئله ده او ببلې څېړنې ته اړتیا لري، خو دلته مهمه مسئله داده، چې اوس امریکا د افغانستان د جګړې له املې دې حد ته رسېدلې، چې نور هره ورځ لوبدیځ چارواکي په تېره بیا امریکایان سخت ورخطا حالت کې ۳مخ

زمستان سرد و افزایش بی سابقهٔ مواد سوختی

با فرا رسیدن فصل زمستان، قیمت مواد سوختی در بازارهای کشور، افزایش قابل ملاحظه‌یی داشته است.

گاز مایع، نفت سفید، زغال و چوب از جملهٔ موادی است که مردم برای گرم کردن منازل خود از آن استفاده می‌کنند و تمامی این مواد سوختی در آستانهٔ فصل سرما، جهش قیمت داشته اند.

این در حالی است که حقوق کارمندان دولتی در افغانستان به طور اوسط از ۱۵۰ دالر تجاوز نمی‌کند و با شرایط موجود، تهیهٔ مواد سوختی برای فصل سرما، مشکل عمده یی برای شهروندان کشور محسوب می‌شود.

به گزارش فارس نیوز، احمد سعادت یک کارمند در شهر کابل گفت: با حقوق ماهانه یی کمتر از ۱۰۰ دالر، مشکل است، تا تمام نیازهای خانوادهٔ پنج نفری ام را برآورده سازم و افزایش مواد سوختی مشکل دیگری است که در این فصل گریبانگیر ما شده است.

وی ضمن گلایه از دولت به دلیل عدم کنترول قیمت‌ها، اظهار داشت: تاجران افغان برای کسب منافع بیشتر، قیمت مواد سوختی و خوراکی را افزایش می دهند.

حمیرا یکی از کارمندان وزارت معارف ضمن گلایه از افزایش قیمت گاز و دیگر مواد سوختی، اظهار داشت:

حقوقی که دولت پرداخت می کند، در مقابل قیمت مواد سوختی مورد نیاز برای زمستان ناچیزاست.

یکی از فروشنده گان گاز مایع در شهر کابل، تاجران را عامل اصلی افزایش قیمت گاز دانست.

وی افزود: تاجران افغان با استفاده از بی کفایتی دولت، قیمت گاز را خود تعیین می‌کنند.

در همین حال، مقام های وزارت تجارت، افزایش قیمت گاز در بازار جهانی را سبب افزایش قیمت‌ها در بازارهای افغانستان اعلام کرده اند.

انورالحق احدی وزیر تجارت در واکنش به شکایت‌های مردم، روز گذشته به خبرنگاران گفت: تمام محصولات نفتی مورد استفاده در افغانستان از کشورهای دیگر وارد می شود؛ به همین دلیل، ص۳



د هغه د پښې پوښتنه به څوک وکړي؟ ۲

ASA
American Soybean Association
If you believe, belong.

اعلان داوطلبی

موسسه امیرکن سویا بین ایسوسیشن (ASA) اعلام میدارد:

- پیشنهاد فروش ۳۰۰۰ متریک تن روغن خوردنی تصفیه شده سویا بین که تحویلی آن بلافاصله از تاریخ ۱۸ جنوری سال ۲۰۱۱ الی ۰۵ فبروری سال ۲۰۱۱ صورت خواهد گرفت.
- پول که از فروش آن بدسترس قرار میگرد به پروژه هایی انکشافی زراعتی افغانستان مساعدت خواهد شد.
- این روغن تصفیه شده سویا بین تولید U.S.A ایالات متحده آمریکا بوده که در قطی های پلاستیکی و فلزی ۴ لیتره بسته بندی شده است که وزن ان تقریبا مساوی به ۳،۶۷۴۱۴ کیلو گرام میشود.
- کمترین مقدار برای داوطلبی یک سهمیه ۶۸۰۴ کارتن ویا ۱۵۰ میتریک تن و یا مساوی به۱۶۳۲۹۶ لیتر میباشد.
- شما میتوانید کاپی اسناد و رهنمای پروسه داوطلبی را و نیزکاپی قرارداد خرید و فروش را از محترم دینیل کیف، محترم ملاخیل و یا حامد فیصل در دفتر (ASA) که آدرس آن در پایین ذکر گردیده از تاریخ ۱۲ ماه دسمبر سال ۲۰۱۰ بدست آورید، و یاهم شما میتوانید کاپی آنرا مستقیما از دفتر (ASA) در ایالات متحده آمریکا که آدرس آن در پایین ذکر گردیده حاصل نماید.
- تاریخ ختم داوطلبی ۲۸ ماه دسمبر سال ۲۰۱۰ ساعت ۱۱ قبل الظهر به وقت کابل میباشد.
- تنها پیشنهاد دهندگان جدی در نظر گرفته میشود، داوطلب مکلف به پرداخت پیشکی (۱۰۰۰۰/ده هزار دالر امریکایی) برای هر سهمیه ۱۵۰ متریک تن که مساوی به ۶۸۰۴ کارتن ویا هم ۱۶۳۲۹۶ لیتر میشود طور تضمین تحویل مینماید.

آدرس دفتر:

خانه نمبر ۱،سرک ۲ عقب پنجشیر پلازه بهارستان کابل افغانستان

۶۱۵۴ ۲۰۱ ۰۷۵ تیلیفون دفتر: ۲۷۸۰۷ ۴ ۱ ۰۴۰: ملاخیل: ۳۲ ۰۶ ۳۹ ۰۷۹۹ حامد فیصل:

شمامیتوانید کاپی انگلیسی را توسط ایمیل ازآقای Daniel Keefe تقاضا نماید:

Email:dlkeefe@yahoo.com

مبایل کابل: (۰۷۹۷-۵۱۷۷۹۳) ۹۳+ تیلیفون امریکا:۶۱۰۲-۳۴۵-۲۰۹-۱+

و یا

Mr. Robert Clark –, Columbus, Ohio

Fax Number: + ۱ ۶۱۴ ۸۳۹ ۲۷۰۹ Main Line: + ۱ ۶۱۴ ۸۳۹ ۲۷۰۰

E-mail address: rclark@cbi-global.com

۵۸۹۸ Cleveland Avenue, Columbus, Ohio ۴۳۲۳۳۱, U.S.A

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د بایډن سپینې خبرې، تورې پایلې

له افغانستان څخه د بهر نیو ځواکونو د شاتګ په اړه که څه هم تر اوسه پرېکنده خبره چا نه وه کړې، پخوا به امریکایي او ناټو چارواکو په دې اړه، ډېر په احتیاط سره خبرې کولې، پرون د امریکا مرستیال ولسمشر دغه ټولې شفې شفې خبرې، په یوه سپینه خبره رالنډې او له یوې امریکایي تلویزیوني شبکې سره د خبرو پر مهال څرګنده کړه، چې امریکایان په ۲۰۱۱ کال کې له افغانستان کې څخه په خپلو وتلو پیل کوي او دغه لړۍ به تر ۲۰۱۴ پورې پای ته ورسېږي، نور که هر ډول شرایط په افغانستان کې واکمن وو، دوی یې پروا نه لري.

باید ووایو، د جو بایډن د پرونۍ سپینې خبرې ترشا ډېرې ناویلې خبرې نغښتي دي، هغه خبرې چې تراوسه پورې یې امریکایي چارواکو په عام محضر کې د پټولو هڅه کوله او هېڅکله یې نه غوښتل چې داسې په سپین میدان کې یې په ډاګه کړي. دغه څرګندونې کوم مفهوم او مانا وې لېږدوي، دا ښکاره، چې د دغو څرګندونو، لومړی پیغام دا دی، چې نور امریکا د دې توان نه لري، چې په افغانستان کې وجنګېږي، د افغانستان جګړه د امریکا پوځ کمزوری کړي، اقتصاد یې زیانمن کړي او په نورو زرګونو افتونه یې اخته کړي، نو ځکه امریکایان په شا کېږي، نور که په افغانستان کې هر ډول وضعیت حاکم و، که انسانان وژل کېدل، که چور او تالان ګډو، که جګړه مارو او جنایت کارو پر خلکو راج چلاوه، دوی ورسره کار نه لري. له دې نه اخوا، دغه څرګندونې، د امریکایي چارواکو ترمنځ ناهمغږي او درزونه هم جوتوي، داسې ښکاري، چې په دې اړه، ټول امریکایي چارواکي یوه خوله نه دي، ځکه تر دې مخکې، د امریکا ولسمشر، دفاع وزیر او نورو پوځي جنرالانو په دې اړه هر یوه یې بېلې بېلې څرګندونې لرلې، چې د بایډن له پرونیو څرګندونو سره هېڅ اړخ نه لګوي. په هر صورت، دا چې د بایډن له خوا د ځواکونو د رون مهالویش ټاکنه به په افغانستان او سیمه کې څه پایله ولري، دا هم ټولو ته جوته ده:

لومړی: طالبان به تشویق شي، چې خپل صفونه نور هم منظم او خپلې جګړې ته شدت ورکړي.

دویم: د افغان دولت لپاره هم ستره ننګونه ده، افغان دولت خو له سره لړزان حالت درلود، او داسې هیلې هم نشته، چې تر یادې نېټې پورې یو څه پیاوړی او ټینګ شي، ځکه چې په تېرو نهو کلونو کې په انبارونو ډالرونو باندې ټینګ نه شو، نو دا له شونیتا لرې ښکاري، چې په دوو درېیو کلونو کې، هر څه سم شي.

درېیم: د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لپاره پر افغانستان باندې د سیالیو لپاره یو سوژه ده، د افغانستان ګاونډي هېوادونه هر یو ایران، پاکستان او نور په افغانستان کې ځانته ځانګړې ګټې او اهداف لري، اوس چې پوه شول، د امریکا د استقامت کاسه ماته او له سیمې څخه په تېښته کې ده، نو هڅه کوي، چې په سیمه کې د خپلې لوبې د بیا پیل لپاره چمتووالی ونیسي او بیا د افغانستان د تاج او بخت لپاره خوبونه ووینې.

تر ټولو ها اخوا، هغه بنسټیزه پوښتنه چې بې ځوابه پاتې کېږي، هغه دا ده، چې نو امریکا په سیمه کې د څه شي لپاره راغلې وه، هغوی خو ویل، چې مور اسامه نیسو، ایمن الظواهري وژنو، په سیمه کې سوله او ثبات راولو، افغانستان آبادوو او داسې نور، خو په تېرو نهو کلونو نه یوازې دغه اهداف یې نه تر لاسه شوی کړای، بلکې برعکس، په سیمه کې القاعده او طالبان نور هم پیاوړی شوي، ناامنی او بې ثباتي په افغانستان او سیمه کې نور هم زور اخیستی، فقر او بېوزلی کچه تر پخوا زیاته شوې. په هېواد کې د اداري فساد بې کچې پراختیا او د مافیایي شبکو او پخوانیو جګړه مارانو بیا فعالېدنه او زور اخیستنه، خو هغه څه دي، چې د مظلوم افغانانو لپاره د امریکایانو د تورې ډالې پرته بل نوم نه شو ورکولی. بیا هم همغه افغانان وو، چې په تېرو نهو کلونو کې یې د دې لوبې لویه بیه پوره کړه، په زرګونو تنه بې کوره، په لسګونو زره نور تپیان او یا یې خپل ژوند له لاسه ورکړ، او په سوونو نور د بګرام او ګوانتنامو د تور جیل میلمانه شول، دا وو په افغانستان کې د امریکایانو د تیرو نهو کلونو کړنو لنډ انځور، خو دا چې تر دې وروسته، پر افغانانو څه راځي، هغه هم ټولو ته څرګنده ده، چې زمور ظالم ګاونډیان بیا هم په کمین کې ناست دي، چې ناټو ځواکونو له وتلو سره جوخت، په افغانستان کې د دوی لوبو او درامو صحنې پېلېږي، هغه څه، چې بیا به یې هم افغانان بیې ورکوي او په کې سوځوي به، خدای دې پر افغانانو ورحمېږي. آمین.

د هغه د پښې پوښتنه به څوک وکړي؟

لیکوال: هجرت الله اختیار



دا زمور د دفتر اداري مدیر د خولې کیسه ده، هغه دا هر څه په خپلو سترګو لیدلي دي. زمور اداري مدیر د کونړ اوسېدونکی دی؛ خو دنده یې دلته په جلال آباد کې ده. هغه ما ته دا کیسه د دې لپاره واوروله چې زه یې ولیکم او کومې ورځپاڼې ته یې ورکړم، چې ټول خلک یې ولولي. هغه ماته نه دي ویلي چې زه یې نوم په کیسه کې ولیکم او که نه؟ خو زه یې دلته د شریف په نوم یادوم.

شریف د هرې چارشنبې په ماسپښین پر خپل موټر سایکل کونړ ته ځي او د یکشنبې په سهار بېرته راځي، هغه کیسه کوله چې تېره نه، هغه بله چارشنبه چې کله زه کونړ ته تلم؛ نو د خاص کونړ په سیمه کې مې خپل یو کلیوال (محصل خان) د هغه له خوږې سره ولید، چې په غره کې یې د قبرونو د شناختو لپاره تیږې راایستې. زه ورته ودرېدم، روغبړ مې ورسره وکړ، یوه شېبه ورسره ولاړ وم؛ خو دا چې ماته مزل په مخکې پروت و او ستړی هم وم؛ نو حرکت مې ترې وکړ، خدای خبر څو بجې به وې چې کور ته ورسېدم، له ډوډۍ خوړلو او لمانځه وروسته د درېوو بجو په شاوخوا کې له خپل تره زوی سره د کلي دوکانو ته راښکته شوم. هلته ناست وو، له خپلو کلیوالو ملګرو سره مو ګپ لګاوه، چې په دې وخت کې د محصل خان ورور سید عیسی راغی، ماته یې وویل چې خوږې مې راته زنګ وهلی و، چې محصل ماما مې امریکایانو له طیارې څخه وویشت، زه هم لږ زخمي یم، ځان راورسوه. سید عیسی له ما څخه د موټر سایکل کیلي واخیسته او په بېړه په خپل ورور او خوږې پسې روان شو.

لږه شېبه وروسته مور هم ورپسې ورغلو، هماغه ځای ته ورسېدو چې محصل خان او د هغه خوږې سره کتلي وو، محصل خان یې په دې وخت کې موټر کې واچوه او جلال آباد ته یې بوت، ما د هغه له خوږې څخه وپوښتل چې ولې طیارو پر تاسې ډزې وکړې، هغه چې ډېر وېر وېرېدلی و او زخمي هم و، راته یې وویل، چې مور تیږې راوویستې، نور مې غوښتل چې کور ته لاړ شو، په دې وخت کې طیارې راغلې او پر مور یې یو ناڅاپه له پاسه ډزې شروع کړې، کله چې طیارې لاړې، ما وکتل چې ماما مې ډېر زخمي دی، خو زما استقامت پر ځای و، هماغه و چې ما عیسی ماما ته زنګ وواهه. له دې خبرو وروسته هغه خپله ملا مور ته راوښوده، د هغه ملا هم په برچو او په کانو لګېدلې وه او زخمي زخمي وه، هغه مو هم په یو بل موټر کې جلال آباد ته ولېږه.

ما بنام و چې بېرته کلي ته راغلو، له کلي مې عیسی ته زنګ وواهه چې د محصل خان او خوږې پوښتنه تر ې وکړو، خو هغه راته دا بد خبر راکړ چې له محصل خان څخه یې پښه پرې کړه؛ خو خوږی مې اوس نښه دی.

د تېرې جمعې په ورځ مازیګر چې زه کله کلي ته لاړم، ګورم چې کلي ته امریکایان راغلي دي او د محصل خان له هغه زخمي خوږې سره یې خبرې کولې، هغه دغه مهال له روغتون څخه رارخصت شوی و. زه هم ورسره ودرېدم، امریکایانو ورته ویل چې مور خپل ډاکټران تاته راولو، چې ستا سم علاج وکړي او ستا ماما محصل خان هم مور په جلال آباد بېس کې تر درملنې لاندې نیولی دی.

زه هماغلته ولاړ وم، چې په دې کې زمور د کلي ملک هم راغی، هغه پرته له دې چې له امریکایانو سره د محصل خان او د هغه د خوږې په هکله خبرې وکړي، خپل حرص پسې اخیستی و، د امریکایانو ژباړونکي ته یې خوله ورانه ورانه کوله، د کلي د برق د نه شتون ستونزه او ځینې نورې ستونزې یې ورته یادولې او له امریکایانو یې غوښتل چې که ورسره مرسته وکړي.

په دې وخت کې ماته غوسه راغله، ملک ته مې وویل، چې ملک صیب! تاسې د محصل خان غم نه خوږئ، له هغه یې پښه پرې کړې ده او تاسې ایله د برق او مرستو حرص اخیستي یئ، ژباړونکي کوښښ

۳ مخ

تجهیز و تقویت ارتش، باعث امنیت دوامدار در کشور می شود

عبدالباصر منصوری



کنفرانس لیزبون که در کشور پرتگال به اشتراک تمامی سران کشورهای عضو ناتو و کشورهایی که در افغانستان نیرو دارند، دایر گردیده بود، در آن به منظور تجهیز، تمویل و واګذاری تأمین امنیت به نیروهای افغان تا سال ۲۰۱۴ وعده سپرده شد. توقع می رود، با عملی شدن این وعده نیروهای امنیتی کشور بتوانند، از سرحدات و امنیت کشور خویش دفاع نمایند.

در حدود ۱۰ سال گذشته، جامعۀ جهانی روی تقویت، آموزش و تجهیز نیروهای امنیتی کشور تا حدی کوشیده اند، ولی به طور شاید و باید آن چنان که لازم است، صورت نگرفته است؛ طور مثال، تا حال اردوی افغانستان نیروی هوایی و سلاح های سنگین مدرن و پیشرفته در اختیار ندارند و باید جامعۀ جهانی جهت حل این مشکل توجه نماید، تا اردوی افغانستان از نظر تجهیزات در سطح بالاتری قرار گیرد و بتواند، نیازمندی های دفاعی خویش را مرفوع سازد.

اگر جامعۀ جهانی با توجه به ضرورت های عینی امنیتی، بین اعزام نیروهای بین المللی، تجهیز و آموزش نیروهای داخلی یک موازنۀ کلی و متوازن را برقرار سازد که هم امنیت کشور تامین و هم آماده گی برای تربیۀ و تجهیز نیروهای امنیتی افغان برای دفاع از امنیت کشور، در آینده گرفته شود، در واقع، این دستاورد بزرگ هم برای جامعۀ جهانی و هم دولت افغانستان خواهد بود.

با این کار، پروسۀ مبارزه با شورشیان به مرور زمان طی چند سال آینده تکمیل شدنی خواهد بود و اگر جامعۀ جهانی تنها به نیروهای خود اکتفا نماید گفته می توانیم که قادر نخواهند بود، تا سالیان دیگر امنیت و ثبات را در افغانستان تأمین و تضمین کنند، دلیل در این نکته این است، طوری که نیروهای امنیتی افغان از عنعنات، رسم، اراضی و ...فرهنگ باشنده گان افغانستان آگاهی کامل دارند، نیروهای خارجی فاقد چنین امر می باشند.

اگر نیروهای خارجی تأکید دارند که خروج این نیروها تدریجی خواهد بود، اما به هر حال آماده گی نیروهای داخلی برای پر کردن جای خالی نیروهای بین المللی امر لازمی و ضروری به نظر می رسد.

در این فرصت بازهم جامعۀ جهانی و دولت افغانستان باید تلاش کنند، تا نیروهای داخلی افغانستان را به صورت سیستماتیک و نظام مند آموزش داده و به مرحله یی برسانند که به عنوان یک نیروی امنیتی قوی در سطح منطقه تبارز کنند و قادر باشند، در برابر اغتشاشات و شورش های داخلی به صورت درست عمل کنند و از حیثیت و عزت کشور سرفرازانه دفاع نمایند و با تشکیل چنین اردوی یی ما خواهیم توانست که از کمک نیروهای بین المللی بی نیاز شویم و در راستای دفاع مستقلانه از کشور و سرزمین خویش فایق و پیروز بدرآییم.

نبه شوله ډېره چې ...

دي او د افغانستان جګړه نور دوی ته ښکې د دوی دوینو په بیه تمامه شوې اوان داچې دې جګړې د دوی اقتصاد ته داسې ډز ورکړی، چې نړۍ ده امریکا له اقتصادي پلوه هم په نړۍ سخته ماته هم وخوري، ځکه دا ثابته خبره ده، چې جګړه د یوه هېواد اقتصاد له ځمکې سره وهي او کله چې اقتصاد پر ځمکه ولوېد، نو سیاسي او پوځي قدرت هم ورسره پر ځمکه لګي او امریکا هم اوس له دې حالت سره مخکېدونکې ده. اوسمهال افغان جګړه د امریکا لپاره تر ټولو مهمه ده، ځکه په دې جګړه کې یې دوی سخت خراب شول او د خرابېدو په حال کې دي. که څه هم دوی وایي، چې په دې جګړه کې یې ډېرې بریاوې او لاسته راوړنې لرلي، خو دا خبره دوی د خپلې ماتې د تلافۍ په پار کوي، نه د حقایقو پر بنسټ. ځکه دوی له اصلي اړخه په دې جګړه کې له سختې ماتې سره مخ کېدونکي دي، که څه هم امریکا ولسمشر اوباما ځان غلی نیولی او په افغانستان کې د جګړې پر دوام ټینګار کوي، خو تر ځان ټیټ پوړیو ته یې بیا واک ورکړی، چې له حقایقو نه باید په شا نه شي. څه موده مخکې د لیزبون په غونډه کې پرېکړه وشوه، چې تر ۲۰۱۴ کال پورې به پوځي واک افغان ځواکونو ته سپارل کېږي، خو تر پرېکړه څو اونۍ وروسته لوېدیځو چارواکو بیا بیا دا خبره تکرار کړه، چې موږ به تر هغو په افغانستان کې پاتې کېږو، چې هلته حالات سم شوي نه وي او د حالاتو له سمون سره یو ځای به موږ خپل پوځونه راباسو. خو اوس اوس په دې وروستیو کې چې له یوې خوا د امریکا د ماتې او اقتصادي بحران او رکود مسئلې بیا تازه سر راپورته کړې او له بلې خوا د افغانستان په جګړه کې د دوی د پرمختګونو روښانه ځرک نه لګېږي، نو امریکایي چارواکي هم دې ته اړ شوي، چې بلاخره وروستۍ پرېکړه وکړي او په هره توګه چې کېږي له افغانستان نه خپل پوځونه وباسي او دا جګړه چې د دوی د ذوال اټکل وسره شونې او ترلې دی ودروي. په همدې حال کې امریکا مرستیال ولسمشر جو بایډن وړمه ورځ ښه په نړه اعلان وکړ، چې تر ۲۰۱۴ کال پورې به ټول امریکایي پوځونه له افغانستان نه باسي. هغه په دومره ټینګار سره دا خبره کوله او ویل یې چې که نړۍ اور واخلي او که اوبه، موږ به خپل پوځونه راباسو. نومورې دا خبرې له این بي سي تلویزیون سره په یوه مرکه کې وکړې. د یادونې ده، دا لومړی ځل دی چې یو امریکایي چارواکی له افغانستانه د ټولو امریکایي ځواکونو د ایستلو لپاره یوه نېټه ښیي او هغه هم په داسې الفاظو او داسې ټکو کې چې بېخې حیرانوونکي دي. خو همدې ته په کتو باالمقابل طالبانو هم تل ویلي چې تر ځو امریکایي پوځیان له افغانستانه وتلي نه وي، له جګړې به لاس وانه خلي. د ګلبدین حکمتیار اسلامي حزب هم له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو د وتلو لپاره د مهالوېش غوښتنه کړې وه. خو اوس هغه وخت رارسېدلی، چې پخپله د امریکا مرستیال ولسمشر جو بایډن وایي، د راتلونکي کال له دوبي به له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د ایستلو پلان یوازې په دې هېواد کې د قواوو کمول نه وي، بلکې امریکا به د ۲۰۱۴ تر پایه ټول ځواکونه وباسي. اسوشیتډ پریس خبري اژانس وایي چې د بایډن دا څرګندونې له هغو څرګندونو سره توپیر لري چې ولسمشر اوباما کړې وي. اوباما تېره میاشت ویلي وو چې په افغانستان کې به د ۲۰۱۴ تر پایه د امریکایي پوځیانو شمېر کم کړای شي او له ۲۰۱۴ وروسته به هم له تروریزم سره د جګړې لپاره امریکایي پوځیان په افغانستان کې پاته شي. امریکایي چارواکو په وروستیو کې ویلي وو چې امریکا او ناټو به له ۲۰۱۴ وروسته هم په افغانستان حضور ولري. د اوباما حکومت په وار وار ویلي چې د ۲۰۱۱ کال جولای به له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو د پیل نېټه وي، خو په افغانستان کې به د امریکایي عسکرو شمېر ډېر له دې سره اړه ولري چې د افغانستان پوځي وضعیت څرنګه دی. خو مرستیال ولسمشر جو بایډن این بي سي تلویزیون ته وویل: «موږ د ۲۰۱۱ کال په جولای کې د ځواکونو په ایستلو پیل کوو او غواړو چې د ۲۰۱۴ تر پایه پورې ټول ځواکونه وباسو.»

په دې توګه ویلای شو دا ټول څرګندونې په اوس وخت کې د افغانستان د جګړې په اړه د امریکایانو دریځ یوځه روښانولای شي او دا چې دوی به رښتیا هم د خپلې وینا له مخې تر دقیقې تاکل شوې نېټې وروسته خپل پوځونه وباسي او که نه او ایا دوی د پوځونو وتل به د افغانستان پر روانو چارو څه اغېز ولرلای شي او څه به پېښ شي، دا مسئله یوه ژور بحث ته اړتیا لري، چې په راتلونکي کې به بحث وروباندې وکړو، ځکه په دې لنډه لیکنه کې ښایي د دې موضوع ټول اړخونه په سمه توګه روښانه نه شي. خو اوس باید دومره ووایو، چې ښایي امریکا ایله اوس پوهېدلې وي، چې د افغانستان جګړه په واقعیت کې د دوی ماتې ته یوه لاره اوپه دې جګړه کې د بریالیتوب پر ځای د ناکامۍ په لور ځي. دوی له اوله داسې فکر نه وکړی او نه یې هم د افغانستان د جګړې هر اړخیزه ارزونه کړې وه، ځکه هغه وخت امریکا د جوش په حالت کې وه او داسې فکر یې کاوه، چې ګنې ټوله دنیا د دوی ده او هر څه چې ګوي، اختیار او واک یې لري او هغه د چا خبره پر ټوله دنیا یې د واکمنۍ د وزرونو د غوړولو تابیا کړې وه، خو اوس پوه شوه، چې که غر هر څومره لوړ دی، بیا هم پر سر لار لري.

فهیم مینه ناک

د هغه د پښې پوښتنه به ...

کاوه چې زما خبرې انګرېزانو ته ماتې ګوډې وژبارې، چې په دې کې ما خپله له انګرېزانو سره په انګرېزۍ شروع وکړه، ورته مې وویل چې تاسې د بشري حقوقو ډنډورې غږوئ؛ خو زموږ د کلي له یو غریب محصل خان څخه هم ستاسې له لاسه پښه پرې شوه، د هغه څه ګناه وه چې تاسې پرې ډزې کولې؟ آیا دا بشر نه دی؟ په دې اړه تاسې څه وایئ؟

هغه ماته وویل چې ګوره دا زموږ غلطي نه ده، دا د پیلوټ غلطي ده، هغه نه دی پوه شوی چې دوی څوک دي، په همدې خاطر خو به موږ دې هلک ته هره میاشت په خپل کور کې معاش ورکوو.

دا ماته د انګرېز ځواب و، هغه داسې ډاډه غږېده لکه چې هېڅ هم نه وي شوي، له یو افغان ځوان څخه پښه پرې کېدل یا د افغانانو مړینه دوی ته هېڅ خبره هم نه ښکاري، خو که دوی ته د یو وېښته هومره ضرر هم ورسېږي، نو دوی بیا د بشري حقوقو ناړې ته آسمانه رسوي.

ما که له یوې خوا پر خپل مظلوم ولس د بهرنیو ځواکونو پر دغه ډول ظلمونو او تېریو اوښکې تویې کړې؛ نو له بلې خوا مې د خپلو مشرانو، ملکانو او ... پر حال هم افسوس کاوه او ډېر مې زما ولس خو د همدوی له لاسه دغه حالت ته رسېدلی دی. زه همداسې نهیلی کور ته روان شوم، له ځان سره مې فکر کاوه چې ملک صیب خو د برق غوښتنه کوي؛ نو د محصل خان د پښې پوښتنه به له دوی څخه څوک وکړي؟

اعدام دسته جمعي زندانیان ...

جندالله یک گروه ملیشه یی سنی مذهب است که مسوولیت چندین حملهٔ خونبار در ولایت سیستان و بلوچستان ایران را که در مرز مشترک با افغانستان و پاکستان قرار دارد، به عهده گرفته است. در حملهٔ انتحاری ۱۵ دسمبر در منطقهٔ چابهار ولایت سیستان و بلوچستان، ۳۹ تن کشته شدند و چندین تن دیگر زخمی گردیدند. گروه جندالله مسوولیت این حمله را به عهده گرفته بود. حمیدی همچنان گفت، اعدام شده گان توسط پولیس و ماموران استخباراتی ایران شناسایی و بازداشت گردیده بودند. رییس قوهٔ قضاییهٔ ولایت سیستان و بلوچستان افزود: "این عناصر فاسد و محارب، با تلاش نیروهای امنیتی و اطلاعات و سربازان گمنام امام زمان شناسایی و دستگیر گردیدند". او افزود: "این عناصر پس از تحویل به دستگاه قضایی ولایت، طبق موازین شرعی و قانونی و انجام تشریفات دادرسی عادلانه محاکمه شدند". این در حالی است که عبدالمالک ریگی، رییس گروه جندالله در ماه جون اعدام گردید. این گروه می گوید که برای دست یابی بلوچ های سنی مذهب به حقوق شان که جمعیت چشمگیر ولایت سیستان و بلوچستان را تشکیل می دهند، مبارزه می کند.

زمستان سرد و افزایش ...

افزایش قیمت در بازارهای جهانی تاثیر مستقیم بر بازار افغانستان دارد.

وی از تلاش دولت برای کاهش قیمت مواد سوختی در بازارهای کشور سخن گفت و اظهار داشت: قیمت هر کیلو گاز برای عمده فروشان ۵۳ افغانی (حدود یک دالر)، برای شرکت‌هایی که گاز را در درب منازل تحویل می‌دهند، ۵۸ افغانی و برای دست فروشان ۶۱ افغانی تعیین شده است.

احدی افزود: در شهر کابل ۳۰ مرکز دولتی فروش گاز وجود دارد که هر کیلو گاز را به قیمت ۵۰ افغانی به فروش می رسانند.

روزانه حدود ۱۸ تا ۲۰ هزار تن گاز در کشور مصرف می‌شود که سهم شهر کابل شش تن برآورد شده است.

کشورهای آسیای میانه مانند ازبکستان و ترکمنستان،از منابع عمدهٔ تامین گاز و محصولات نفتی مورد نیاز افغانستان است و در کنار افزایش قیمت جهانی، انسداد راه‌های انتقال به خصوص در فصل سرما و بی توجهی دولت، از علل دیگر افزایش قیمت هاست.

گرچه بر اساس تحقیقات انجام شده، منابع متعدد گاز و نفت در کشور وجود دارد، اما تا استخراج آنها راه درازی در پیش است.

ایران از رسیدن مواد نفتی به افغانستان جلوگیری می کند

مسوولان محلی نیمروز می‌گویند: گمرک ولایت نیمروز به خاطر توقف تانکرهای مواد نفتی در مرز ایران، در دو هفته ۱۵۰میلیون افغانی ضرر دیده است. آنان علت این کار را جلوگیری حکومت ایران از وارد کردن نفت به نیروهای خارجی در افغانستان، خوانده اند.

به گفتهٔ این مسوولان. با گذشت دو هفته، هنوز هم دولت ایران اجازهٔ ورود تانکرهای مواد نفتی را در پل ابریشم ولایت نیمروز، به خاک افغانستان نمی دهد و اکنون صدها تانکر تیل در آن سوی مرز، انتظار ورود به افغانستان را می‌کشند.



این تیل‌ها، عمدتاً دیزل بوده و از ترکیه، ترکمنستان، عراق و دوبی، از طریق خاک ایران به افغانستان وارد می‌شود.

به گزارش شبکهٔ کلید، الهام الدین مظهر، رییس کمرگ نیمروز، روز گذشته گفت، گمرک این ولایت، با توقف مواد نفتی از سوی ایران، در دو هفتهٔ گذشته، ۱۵۰ میلیون افغانی ضرر دیده است.

به گفتهٔ مظهر، بیشتر محصولات گمرکی نیمروز، از بابت مواد نفتی از طریق ایران به دست می آمد و با توقف ورود موادنفتی، عواید آنها ۶۰ درصد کاهش یافته است. مقام های ایرانی تا هنوز در این مورد چیزی نگفته، اما یک مسوول امنیت ملی در نیمروز، گفته است: مقام های ایرانی ادعا می‌کنند که به این خاطر از ورود مواد نفتی جلوگیری می‌شود که از آن، نیروهای خارجی به خصوص نیروهای امریکایی — در افغانستان استفاده می‌کنند.

رییس جمهور در حال تهیهٔ فهرست اعضای انتصابی مشرانو جرګه

رییس جمهور در حال تهیهٔ فهرست اعضای انتصابی مشرانو جرګه است.

سخنگوی رییس جمهور کرزی گفت که رییس جمهور افغانستان مشغول تهیهٔ فهرست اعضای انتصابی مجلس سناست.

"وحید عمر" دیروز در کنفرانس مطبوعاتی هفتگی خود خبرهایی

مبنی بر معرفی کاندیداهای شکست خورده پارلمانی به عنوان اعضای انتصابی مجلس سنا را رد کرد.

وی گفت: ممکن است، فردی از کاندیداهای شکست خورده انتخابات پارلمانی به مجلس سنا راه یابد، اما این به معنا تبانی نخواهد بود. مجلس سنای افغانستان ۱۰۲ عضو دارد که یک سوم اعضای آن توسط رییس جمهور انتخاب می‌شوند و دو سوم دیگر انتخابی هستند. با پایان یافتن مدت قانونی نمایندگان انتصابی، رییس جمهور افغانستان درصدد معرفی نمایندگان انتصابی جدید به این مجلس است. قرار است پس از آغاز به کار نمایندگان انتصابی، پارلمان افغانستان نیز به کار خود آغاز کند.

ACKU

از تاریخ بیاموزیم!

نویسنده: احمد ارشاد خطیبی

سود گرفتن از زمان و پند گرفتن از تاریخ، ملت ها را به مجد وعظمت می رساند؛ زیرا زمان و تاریخ ثروت های با ارزش برای ملت ها به حساب می آید.

اما دریغ و درد که در دنیای امروز برخی از ملت ها از ثروت های مشروع و هنگفت معنوی شان استفاده شایانی نمی کنند که یکی از جملهٔ این ثروت ها، تاریخ است. ملتی که قدر زمان وفرصت ها را بداند و به تاریخ خویش به دیدهٔ انتباه بنگرد، می تواند گذشته را به خوبی بررسی، حال را به درستی درک و آینده را تا حد ممکن به گونهٔ علمی پیش بینی کند؛ اما ملتی که به درستی از تاریخ خود نیاموخته و از کنار آن به ساده گی بگذرد، سزاوار است که با گذشت زمان؛ حوادث تلخ را بارها به تکرار تجربه کرده و دستخوش ناملایمت های تاریخی گردد.

جواهر لعل نهرو(۱۸۸۹- ۱۹۶۴م)، دانشمند و سیاستمدار برجستهٔ هندی در خصوص تکرار تاریخ می گوید: " ملتی که تاریخ خودش را درست نفهمیده است، تاریخ برای آن ملت تکرار می شود."(۱)

در این سخن حکیمانهٔ نهرو برای ملت های فقیر و اسیر، پند خاصی نهفته است که این ملت ها می توانند، با تمسک به آن، دلایل وانگیزه های مهم عقب مانده گی و یا عقب مانده نگهداشته شدن شان رابیابند.

با توجه به این سخن ارزشمند، می توان گفت آنچه راکه امروز در صحنهٔ خونین افغانستان مشاهده می کنیم، در تاریخ سرزمین ما تازه گی ندارد و مردم ما هم از جمله مردمی هست که متأسفانه تاریخ خود را به درستی نفهمیده و آن گونه که شایسته است، از آن نیاموخته اند.

فقر؛ استبداد، قوم گرایی، بی قانونی، بی سوادی، بی عدالتی، فساد، مافیا سالاری، غوغاسالاری، استعمار و استثمار و هزاران مصیبت دیگری که امروز مردم افغانستان قربانی در جهٔ اول آن هستند، قسمت اعظم تاریخ ما را تشکیل می دهد که نسل های قبلی را هم همانند نسل امروز، قربانی کرده است. ناملایمت های کنونی در میهن ما، ریشهٔ تاریخی دارد و باید اسباب و عوامل آن را در تاریخ خود جستجو نماییم، اینکه این مصیبت ها ریشه و بن تاریخی دارد، نباید دست آویزی برای زمامداران و نسل حاضر کشور ما باشد، تا وظایف شان را در قبال میهن انجام ندهند و خود را در قبال نابسامانی های کنونی کشور در حالت انفعال قرار دهند. در این شکی نیست، هر نسلی در تاریخ رسالت خاصی دارد و نسل امروزی جامعهٔ ما هم رسالت خاصی در قبال زنده گی فردی و اجتماعی دارد. باید نسل حاضر با توجه به اعمال نسل های گذشته، جدیت بیشتری در راه تأمین ثبات و مدنیت در افغانستان داشته باشند. اگر به تاریخ این سرزمین به دید علمی بنگریم، به این نتیجه خواهیم رسید که چگونه شگردهای کنونی فردی و جمعی ما در بستر زمان شکل گرفته و رخداد های گذشتهٔ سرزمین ما، تا چه میزانی با آنچه که امروز در کشور ما می گذرد، در ارتباط است. به گفتهٔ عبدالرحمان عالم متفکر ایرانی: " تاریخ ثبت رخداد های گذشته است و به ما می گوید که این رخدادها چگونه به وقوع پیوسته است، بنابر این، تاریخ داستان انسان، داستان کوشش ها، موفقیت ها و ناکامی های انسان در عمل است."(۲)

کشور ما، از تاریخ و مدنیت کهنی برخوردار است، به میزان عمر تاریخ و مدنیت کشور، باید از آن آموخت، هر قدر که بر تاریخ ما افزوده می شود و از مبداء آن فاصله می گیریم، باید به همان میزان از آن آموخت.

به همین سبب است که اندیشمندان علم تاریخ، وظایف نسل حاضر را از جهت تاریخی از نسل های گذشته بیشتر می دانند و مهمتر.

از تاریخ بیاموزییم که ناظر براعمال زمامداران و ملت هاست، تاریخ اعمال زمامداران و ملت ها را به درستی وبیطرفانه ثبت می کند، رابطهٔ تاریخ با قضاوت عادلانه، ناگسستنی است و صرف نظر از موقف افراد و اشخاص، اعمال آنان را مدنظر قرار می دهد. برای همه انسان ها مطالعهٔ دقیق تاریخ باید وظیفه باشد، نه حرفه. هر آنچه که گذشته گان مان- چه خوب و چه هم غیرخوب- انجام داده اند، تاریخ به خوبی به یاد دارد و آنچه که انجام داده اند، در حافظهٔ تاریخ ثبت است و آنچه هم که ما امروز انجام می دهیم، از سیر تاریخ باز نمی ماند. به گفتهٔ هوارد فاست نویسنده و مورخ نامدار امریکایی :"تاریخ مزرعه یی است که هیچ دانهٔ سالمی در آن گم نمی شود."(۳)

این تاریخ است که پیوند و رابطهٔ ملت ها را با تمدن بازگو می کند و به ما می گوید که ملت ها چگونه از بدویت عبور کرده و به مدنیت دست یافته اند. خواجه بشیر احمد "انصاری"، یکتن از نویسنده گان کشور، چه خوب تجارب تاریخی را با تمدن ارتباط داده است:" ملتی که از تجارب خویش نمی آموزد، در میزان تمدن کودکی بیش نیست."(۴)

تاریخ؛ مکتب ساخت انسان است و باید از آن درس صداقت، عدالت و یکرنگی را آموخت و این اندیشه را که می توان اعمال خود و زمامداران خودسر و از خدا بیخبر را از دید تاریخ کتمان کرد، برای همیشه از ذهن مان دور کنیم.

سید ضیاء الدین طباطبایی عالم وسیاستمدار ایرانی در خصوص سیر تاریخ چه عالمانه گفته است:" سر تاریخ را با هیچ نوع مغالطه و امیال خصوصی نمی توان منحرف نمود. آنهایی که می خواهند، بر خلاف نوامیس اقدام نمایند و آنهایی که می خواهند خورشید را بالکل بپوشانند، سعی عبث می کنند."(۵)

وظیفهٔ ماست که تاریخ را برای درک و بیان واقعیت ها مورد مطالعه قرار بدهیم و از ان برای (ما شدن) مردم سرزمین بلاکشیدهٔ مان سود ببریم.

تاریخ را در خدمت قبیله قرار دادن و به واسطهٔ آن مافیا، استبداد وعصبیت را توجیه کردن، خیانت آشکار به مردم است. سزاوار است، تا تاریخ را ملاکی برای بررسی گذشته، درک حال و نگاه به فردا قرار دهیم و این سخن میر غلام محمد غبار (۱۳۵۶-۱۳۷۶) مورخ آزاد اندیش کشور را از جان ودل بپذیریم که می گوید:" ما تاریخ گذشتهٔ کشور خود را برای این مطالعه می نماییم که اوضاع امروزی خود را صحیح تر درک نماییم، تا مبارزین جوان افغانستان در حرکت به پیش، خط درست وآگاهانه اختیار نمایند؛ زیر این تاریخ است که سیر تکامل یک جامعه را در روشنایی نشان می دهد."(۶)

تاریخ را به دقت مطالعه کنیم، تا ویژه گی های فردی و جمعی مان را بشناسیم، این تاریخ است که هویت انسان در مسیر آن شکل می گیرد و به تعبیرعلمی داکترعلی شریعتی (۱۳۱۲-۱۳۵۶)"هر کس انسان بودنش را یعنی همه خصایصی که او را به نام انسان مشخص می کند، از تاریخش می گیرد"(۷)

سرچشمه ها:

۱- رهنورد زریاب،... چه ها که نوشتیم، چاپ اول، تهران: ناشر محمد ابراهیم شریعتی افغانستانی، از مقاله " گذشته ها را چگونه میبینیم؟"، ۱۳۸۲ ه.خ، ص۱۰۳ .
۲- عبدالرحمان عالم، بنیادهای علم سیاست، چاپ دهم، تهران: نشر نی، ۱۳۸۲ ه.خ،ص ۶۶
۳- فاست هوارد، اسپارتاکوس، مترجم ابراهیم یونسی، چاپ هفتم، کابل: انتشارات میوند،ص ۳۳.
۴- خواجه بشیر احمدانصاری، افغانستان در آتش نفت، چاپ چهارم، کابل: انتشارات میوند، زمستان۱۳۸۲ ه.خ، (از پیشگفتار این کتاب).
۵- غلام رضا "واحدی"، افکار جاوید، چاپ دوم، تهران: نشر کانون معرفت، ۱۳۲۷ه.خ، ص ۳۳.
۶- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول و دوم، چاپ سوم، کابل: نشر انقلاب به همکاری جمهوری، ۱۳۶۶ه. خ، ص ۲.
۷- داکتر علی شریعتی، سخنی چند در بارهٔ کتاب، چاپ پنجم، تهران: انتشارات چاپخش، ۱۳۸۶ه.خ، ص ۲۳

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده هفتم : الف – حق شرکت در کلیه انتخابات و همه پرسی های عمومی و واجد صلاحیت بودن برای انتخاب شدن در تمام ارگان های منتخب مردمی.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی ارادهٔ
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجنیر محمدجمیل " امیری "
همکار تخنیکی: محمدجمیل " احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com